# دکورونا واکسین په اړه معلوماتي پاڼه

**د کورونا ویروس:**
د کورونا ویروس( SARS- CoV-2-) له انسان څخه بل انسان ته سرایت یا انتقال کوي او د CVID -19 ناروغی سبب ګرځي. دکورونا پر ناروغی ټول وګړي چې په هر عمر وي، ا خته کېږ ي.
دنومورې ناروغی علایم تبه، ټوخي، سا لنډي او دبوی‌اوخوند احساس له لاسه ورکول دي او له څو ورځو تر څو اونیو دوام کوي.
که چېرې دناروغی حالت سخت شي نود ناروغ تنفسي لارې او نور ارګانونه ګزک یا التهاب کوي. په داسې حالت کې اړ ینه ده چې د ناروغ درملنه دروغتون په جدي مراقبت کې وشي. د کورودناروغی ناوړې پایلې کیدی شي تر ډیرې مودې دوام ورکړي او د مرګ لامل هم شي.
دناروغی د مخنیوې تر ټولو ښه لاره د واکسین کارول دي.

**ولې باید ځان واکسین کړئ؟**
واکسین تاسو دکوید ۱۹ ناروغی د اخته کیدو له سخت حالت څخه ژغوري.

**واکسین څنګه په بدن کې تاثیر کوی؟**
واکسین ستا بدن دي ته تحریکوي چې دویروس پرضد معافیتي مواد (انتي باډي) جوړ کړي. کله چې تاسو د کوید ۱۹ ویروس ( SARS-CoV 2) د کړکړتیا له ګواښ سره مخامخ شئ نوجوړه شوې انتي باډي تاسو لد ې څخه ساتي چې سخت ناروغ شئ. نومورې واکسین تاسو لږ تر لږه دشپږ میاشتو لپاره دویروس له کړکړتیا او ناروغی څخه ساتي . استثنایی حالت شته چې څوک سربېره پردې چې واکسین یې کړی وي، پر کوید - ۱۹ ناروغی اخته شي، خو دغو ناروغانو کې دناروغی بهیرسخت نوي او دناروغی له پېچلي کېدو اومړیني مخنیوی شوی وي.
واکسین کې د 2-SARS-COV ویروس نه شته، له همدې امله د کوید ۱۹ ناروغی لامل نشي کیدی.

**واکسین مطمئن دی؟**
هو. ازمویل شوی او تصدیق شوی دی. واکسین اغېزمن اود باور وړدی.
د کوید ۱۹ ټول واکسینونه چې په اروپا کې د کارولو اجازه ورکول شوې، په بشپړه توګه ازمویل شوي او له دې وروسته هم په جدي توګه کنترولیږي. له همدې امله واکسینونو ته د ا ستعمال جوازد اروپا د درملو ادارې EMA ورکړې.

**څوک باید واکسین شي؟**
واکسینونه دهغوی ډول ته په کتو له ۱۶ اویا ۱۸ کلنی څخه پورته وګروته ورکول کېږي. په پخوا نی ناروغی ( لکه وینې جګ فشار، دشکر، د زړه ناروغی اویا استما یا سالنډي) ا خته وګړي هم کولی شي ځان واکسین کړي. هغوی کولی شي لومړی له خپل معالج ډاکتر سره پدې اړه وغږېږي او له مشورې سره سم پرېکړه وکړي. همدارنګه څوک چې حساسیت یا الرژي لري ( لکه دخوړوسره حساسیت، د ګلانو د ګرد ، دکور ګرد او انتی بیوتیک په وړاندې حساسیت) هم کولی شي چې واکسین شي، څکه په واکسین کې داسې څه نشته چې حساسیت رامنځته کړي.کله چې له خپل ډاکتر سره د واکسین کولو په اړه مشوره کوئ د حساسیت موضوع هم یاده کړئ او خپل د حساسیت کارټ هم له ځانه سره واخلي.

**څوک باید واکسین نه شي؟**
کله چې تاسو یوه حاده میکروبې ناروغی له تبې سره (له ۳۸ درجې لوړه) ولر ي، باید مخکې له واکسین څخه د خپل معالج ډاکتر سره وغږېږي .همدارنګه کله چې تاسو امیدواره (حمل) یاست او یا داچې داسې ګمان کوئ چې حامله یاست، یا دماشوم لرو پلان لرئ نو مخکې له واکسین کولودخپل معالج ډاکتر سره مشوره وکړئ.
که تاسو همدا اوس د کوید ۱۹ په ناروغی اخته یاست ( دلومړي PCR- مثبت تست څخه تر ۴ اونیو).واکسین نه شئ کولئ.

**هغه وګړي چې دکوید۱۹ناروغی یې تېره کړې باید واکسین شي؟**
که یو چا د کوید ۱۹ ناروغی تېره کړې وي، بیا هم امکان لري شي چې ناروغه شي. لدې امله نومورې وګړي هم باید واکسین شي. خو واکسین باید شپږ میاشتې له ناروغی وروسته تر سره شي.

**چېرته او څنګه واکسین کولای شم؟**
واکسینېشن په بیلابیلو ځایونو کې ترسره کېږي. تاسو ته په خپل وخت خبر درکول شي چې چېرته او څه وخت واکسین کېږئ.

**د واکسینېشن ټول بهیر څنګه ترسره کیږي؟**
واکسینېشن د هر چا د خوښې کار دی. اوپه وړیا توګه کیږئ. مخکې تردې چې د واکسین کولو ځای ته ورننوځئ، تاسو ته یوه فورمه ( د لاربښوونې فورمه) درکول کیږي، باید ډ که یې کړئ او که چیرې کومه پوښتنه لرئ په اړه یې له ډاکټر سره وغږیږئ.
لطفا د واکسین کولو لپاره خپل د صحي بیمې کارت او د واکسین کتابچه ( که لرئ یې ) له ځانه سره راوړئ.
دواکسین عمل دستاسو د لاس پر مټ(بازو) دیو ې پیچکارۍ پر لګولو ترسره کیږي. پدغه پیچکارۍ کې د واکسین مواد وي. وروسته لدې چې واکسین مو وکړ، تقریبا ۲۰ دقیقې هلته پاته شئ. که چیرې ځان ښه نه احساسوئ، ډاکټرته خبر ورکړئ.
بېلابېل واکسینونه شته. د ځینو مکمل دوز په یو وار ورکول کیږي اوځینې په دوه برخو کې ورکول کیږي. دوهمه برخه یې له لومړۍ برخې څواونۍ وروسته ورکول کیږي.

**زه کولی شم د واکسین ډول پخپله ځانته خوښ کړم؟**
نه. کوم واکسین چې موجود وي هماغه درکول کیږي. موږ نه پوهیږو چې کوم ډول به تاسو ته درکول شي.

**آیا د کوید ۱۹ واکسین ناوړه تاثیرات (جانبي عوارض) لري؟**
واکسین کولی شي ناوړه تاثیرولري. د پیچکارۍ ځای خوږیږ، سوروالی او پړسوب لیدل کیږي. وروسته له واکسین څخه سږ ی ځان ستومانه احساسوي، سر یې خوږیږي او یا لږ تبه لري. همدارنګه د زړه بدوالی، استفراغ اود سړه تبې پیښې هم لیدل کیږي.
پورته جانبي تاثیرات د واکسین په وړاندې یو ډول نورمال عکس العمل دي. ددې لامل دادی چې وجود د د مرض د مکروب په وړاندې دفاع ته تیاری نیسي. نوموړي جانبي تاثیرات اکثراً وروسته له څو ورځو لرې کیږي. له لسوتنو واکسین شویو څخه څه د پاسه یو تن ته یادې ستونزې را منځته کیږي.

**د واکسین له کولو سربېره باید FFP2 ماسک استعمال کړم؟**
سره لدې چې تاسو واکسین کړی، خو محافظتي مقرارت لکه د FFP2 ماسک استعمال، دحفظ الصحي مقررات او د واټن یا فاصلې ساتل باید مراعات کړئ .

**<u>پدې اړه نور مالومات په لاندې لینکونو کې موندلئ شئ :</u>**

https://www.sozialministerium.at/Corona-Schutzimpfung/Corona-Schutzimpfung---Haeufig-gestellte-Fragen.html
https://www.sozialministerium.at/Informationen-zum-Coronavirus/Coronavirus---Aktuelle-Informationen-in-Fremdsprachen-.html
https://www.sozialministerium.at/Corona-Schutzimpfung/Corona-Schutzimpfung---Jetzt-anmelden-/Faktencheck-zur-Corona-Schutzimpfung.html